محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۱۰۶

# محسن تفسیر

## ۱۰۶ ــــ د «قریش» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین «عنایت»

د قريش سورت تشريح

ژباړه او څېړنه:

احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم

د لوراند او لورين الله په نامه

سورةالقريش

## د قريش سورت (۱۰٦)

د «قريش» سورت مکي دی (۴) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰٦)، په نزول کې (۲۹) سورت دی. د «التين» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی. ددې سورت نـوم د هغه د لومړي آيت د «قريش» له لفظ اخېستل شوی دی دا سـورت د مفسـرينو د سـتر اکثريت لخوا مکي ګڼل شوی دی او د مکي والي لپاره يې پخپله د سورت د مـتن «رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ» لفظونه شهادت ورکوي. او له بلې خوا د «فيل» سورت له مضمون سره ددې سورت د مضمون ژوره اړيکه هم ددې ملاتړ کوي، چې کېدای شي ددې نزول، په هغه پسې له لږ مهالني واټن وروسته شوی وي.

د دواړو سورتونو تر منځ ددغه تړاو پر بنسټ په سلف کې ځېنـو لويـانو دا ګڼلـه چـې دا دواړه په اصل کې يو سورت دی، او دې انګېرنې پر دې بنسـټ ملاتـړ مونـدلی چـې د حضـرت ابی بن کعب په مصحف کې دا دواړه سورتونه يو ځای يو په بـل پسـې داسـې ليکل شوي ول چې د دواړو تر منځ «بسم الله..» ليکل شوې نه وه، او بله دا چې حضـرت عمر (رض) يو ځلې دواړه سورتونه يو ځای پرله پسې، له کوم بېلتون پرته په نمانځه کـې تلاوت کړي ول، ليکن دا رايه له دې وجې د منلو وړ نه ده چې؛ کله حــضرت عـثمان (رض) د اصحابو د ستر شمېر په مرسته په دولتي توګه چې کومې نسخې ترتيب، تنظيم او وليکلې، او د اسلامي هيوادونو مرکزونو ته يې ولېږلې، په هغوې کې د دواړو سورتونو تر منځ [بسم الله] لېکلې وه او له هاغه مهاله تر اوسه د نړۍ په ټولو مصحفونو کې د بېلو بېلو سورتونو په توګه منل شوې او ليکل کيږي. سربېره پر دې د دواړو سورتونو د بيان انـداز يو له بله دومره بېل دی چې په څرګنده توګه دوه بېل بېل سورتونه برېښي.

### له مخکيني سورت سره اړيکه او د سورت د منځپانګې چورليځ:

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «فيل» دی، له مخکيني سورت [فيـل] سره ددې سورت اړيکه او ورته والی او د هغوی د مفهومونو او مضمونونو تـر مـنځ تـړاو تـر دې

بريده ژور او څرګند دی چې حتا ځينو مفسرينو دا دواړه سورتونه، لکه د انشراح او ضحی د سورتونو په څېر، د يوګوني سورت په توګه ګڼلي، توصيه يې کړې ده چې په نمونځونو کې يو په بل پسې وويل شي. د ځينو نورو په اعتقاد، د «لايلاف» کليمه چې د قريش سورت په پيل کې راغلې ده، [چې د فيل سورت په يو له افعالو يا د هغه عمومي مضمون پورې اړه لري] دا رسوي چې له هاغه څه سره چې د «اصحاب فيل» پر سر راغلل، د «ايلاف قريش» سريزه او ډګر برابر شو. په هر حال کې هر دواړه سورتونه، مستقيم يا غير مستقيم، د کعبې او قريشو د موقعيت او ځايګي پر چورليځ څرخېږي او ددې کور نقش او د راتلونکي لپاره د هغې د ځارونکو او پاسوالانو دريځ څرګندوي.

له تاريخي او ټولنپېژندنې ليده داسې برېښي چې د ابرهه د لښکر نابېره ماته او نشت کېدل، او په شاوخوا اطراف او چاپېريال کې يې د ماتې او نابودی د آوازې خپرېدل د کعبې د پوړ او قدر او د قرېشو د مقام او موقعيت د پورته کېدو لامل شو تر دې بريده چې له هغې وروسته ډېريو زياتو زيارت کوونکو به چې د کعبې پر لور حرکت کاوه هغه يې د يو ټيکاو مرکزيت په توګه موندو او د هغه له امنيته، چې له ډار سره شامل درناوي له لامله رامنځته شوی وو، د لوټمارو قبيلو تر منځ تجارتي سفرونه شوني شول او داسې يو «الفت» څرګند او وپنځېد چې تر دې مخکې يې مخينه نه درلوده.

د داسې يو تحول او اووښتون لپاره، د ځمکې او ډګر په برابرولو کې، د پالونکي څښتن د روزنې او تدبير لاس دی چې د هغه نوم ددې اووښتون او تحول چورليځ ګڼل کېږي. په زړه پورې دا چې د خدای تعالی د نيکو نومونو له منځه، يوازې د «رب» نوم په دې دوو سورتونو کې کارول شوی چې ددې کور د امنيت او حريم په ساتلو کې د انسانانو د «تربيت» او د هغوی د زړونو د تأليف په خاطر د هغه «ربوبيت» څرګند کړي؛ چې د بقره سورت په ۱۲٦ آيت کې او همدا راز له لږ توپير سره د ابراهيم سورت په ۳۵ آيت کې تکرار شوی دی:

«وَ إِذْقَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ ...» او [درياد کړئ] هغه مهال، چې ابراهيم [د دعا په مقام کې] وويل: پالونکی څښتنه! دا [اوېجه، د دښمنو قبيلو له قتل او لوټمار څخه وساته او دا] د امن ښار کړه، او له اهل څخه يې هاغو کسانو ته چې پر الله او آخرت يې ايمان راوړی، له ميوې [او حاصلاتو] روزي ورکړه...

هاغه اوېجه چې ابراهيم پکې دا کور بيا ودان کړ، د قرآن په تعبير، «واد غير ذی زرع» [د کرکيلي لپاره له استعداد او چمتووالي پرته وادي] ده.له «وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ ...» آيت او له «وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ ...» آيت څخه پوهېدی شو چې دې کور له پخوا څخه مخينه درلوده. [قصص ۸ (۲۸:۸) او بقره ۱۲۷(۲:۱۲۷)]

په داسې شرايطو کې چې د کرکيلې لپاره ناوړه او ناسم دي، يوشمېر خلکو د سختۍ او ستونزو په متن کې او د فقر او بېوزلۍ او محروميت په انتها کې په لېرې پرتو خېرو او ګډو وډو قبيلو کې، له يو بل سره د دښمنۍ په حال کې ژوند کاوه او تل پر ګاونډيو او د څنګ او ګاونډ پر سيمو له تيري سره د يو بل په قتل او لوټمار بوخت ول. د داسې خلکو په سرکښ طبيعت کې چې د چاپېريال د لاملونو له کبله په وحشت، بېديا مېشتۍ او بيابان ګرځۍ کې پاتې شوي ول، د زړونو د تأليف او يووالي، مينې او محبت لپاره کومې ځمکې او ډګر شتون نه درلود، خو د ابراهيم او د هغه د زوی په لاس ددې کور له بيا ودانۍ سره او د هاغه حضرت دعا چې د هغه د زوزات پر لور د خلکو د زړونو د څکولو او راتاوولو لپاره وه، د هغه زوزات ددې کور او د هغه د توحيدي ارزښت پاسوالان ول، په تدريجي توګه ورو ورو دا هيله يې پوره شوه او (د توحش او تنفر پر ځای) د مينې او محبت او الفت ځمکه او ډګر برابر شو او خلکو ددغه الهي خراغ د هدايت د رڼا په وړانګو کې يو تر بله پيوند وخوړ او يو ځای شول. د ابراهيم سورت ۳۷ آيت :

«رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ» [ابراهيم ۳۷ (۱۴:۳۷)]

پالونکی څښتنه، ما [هاجر او يو] له خپل زوزاته په يوه داسې دره کې چې د کر کيلې وړتيا نه لري [= بې اوبو او بې وښو ده]، ستا د بيت الحرام تر څنګ مېشت کړي دي؛ پالونکی څښتنه، چې صلات [= له شرکه لېرې خدای پلټنه او توحيدي مخ کونه] قايم [او اوچت] کړي؛ نو د يو شمېر خلکو زړونه ددوی لور ته راتاو او ليوال کړه او [په داسې يوه وچه او شاړه اوېجه کې] له محصولاتو څخه ورته روزي وروبښه، چې د نعمت منندوی شي.

هاغه پېښه چې د ابراهيم د بشپړترين زوزات له زېږېدني سره هم مهاله وه، چې د هغه د شريعت بشپړونکی او دهغه د هيلو پايلامه وو، د الهي امن پر حرم د تيريګرو [اصحاب فيل

له نشتېدو سره پايته ورسېده او ددې کور پر ارزښت، موقعيت او مرکزيت له پخوا لا نوره زياتونه وشوه، او د بې رحمو، بې عاطفې ترېدلو وګړو تر منځ يې د الفت او تړون لپاره ډېرې ځمکې او ډګرونه برابر کړل. د بقره سورت ۱۲۹ آيت:

«رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ» [بقره۱۲۹(۲:۱۲۹)] پالونکی ښتنه، او د هغوی [= الهي ربوبيت ته تسليم شوو کسانو] په منځ کې له هغوی يو استازی غوره کړه چې ستا آيتونه هغوی ته ولولي او کتاب او حکمت هغوی ته ور زده کړي او [له ناولتوبه يې] سپېڅلي کړي، چې همدا ته، يوازې ته عزتمن حکيم يې.

ګـواکې د قـريش سـورت پـه پـای کـې لـه لـوړې څخـه د مرښـت او لـه ډار څخـه د امنيت نغوته «الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ» د کـور د لـومړي بنسـټګر د هماغې دعا منل کېدل دي چې ددې کور د اهل لپاره يې هيله او آرزو کړې وه.

ددې کور اړوند، د حضرت ابراهيم په دعاګانو کې، په يو شان (د الله پر ځای) د «رب» نوم تکرار شوی دی. په دې دوو سورتونو کې هم د «رب» نوم ته ځانګړې پاملرنه شوې ده:

(أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ) (فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ). [رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا، رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ، رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ، رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ، رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ...]

لکه څنګه چې وويل شول د پالونکي ښتن حکيمانه تدبير دا راز اقتضا کوله چې د هغـه د «ربوبيت» په سيوري کې او د امن و امان په حريم کې چې هغه ګومارلی دی، بې فرهنګه، بې ايمانه او بې ادبه خلـک «تربيـت» شي [وروزل شي] او د مثبتـو صـفتونو لکـه غيـرت، سخاوت، مروت، شجاعت، صراحت او... له پانګې سره [چې د صحرا په سختو شرايطو کې يې د فقر او محروميت په شتون کې له ژونده لاسته راوړې دي] الفت ومومي، لـه شرک او وهمونو څخه آزاد شي، او نورو بندګانو ته د داسې رسالت پيغام راوړونکي او مبلغين شي.

نو په تير سورت کې يې دا خبره څرګنده کړې ده چې په دې اوېجه کې چې کـوم امـن و امان شتون لري ددغې کور له برکت او لامله دی او پـه دې سـورت کـې يـې دا موضـوع څرګنده کړې ده چې؛ په دې اوېجه کې چې د رزق، شـتمنۍ او سـوکالۍ کـومې وسـيلې شتون لري، د هغې لارې او درې هم ددې کور له برکته پرانېستل شوې دي. نو له همـدې

کبله حق خو دادی چې ددې کور د پالونکي څښتن عبادت وکړل شي او د پالونکي څښتن [ربّ] په دې حق کې نور شريک نکړل شي.

له يوه ښه نظام او اداري سيستم څخه چې کوم برکتونه او سوکالي ښاريانو ته په برخه کېږي دا دوه څيزونه يې د لړليک په سر کې دي: امنيت او رزق. د مکې په اوېجه کې دا دواړه برکتونه د ابراهيم (ع) د دعا په برکت د بيت الله تر بيا ودانولو وروسته قريشو ته حاصل شول. نو ددې فطري حق دا وو چې په ټوله کې د هغوی تړاو د واحد او لاشريک خدای سره وای، خو قريش په شرک کې مبتلا شول او د ابراهيم (ع) په لاس بيا ودان شوی کور يې له بو تانو ډک کړ.

هغوی ته وايي چې له دې کور سره د خپل تړاو ډول او ښه مه هيروئ. دا کور هغوی ته خدای تعالی د امانت په توګه ورکړی وو، چې له برکته يې هغوی په امن کې شول او د رزق او روزی لارې ورته پرانيستل شوې، چې په پايله کې يې رزق او روزي پراخه شوه. که هغوی ددې کور د پالونکي څښتن [ربّ] نا شکري وکړه تاسو ياد ساتئ چې ددې کور د پاسوالۍ او څارنې شرف به له لاسه ورکړي او له دې سره به هم ټول روحاني او مادي برکتونه چې ددې کور له برکته حاصل شوي پای ته ورسېږي.

په دې سورت کې يې لومړی ددغه تړاو د ځانګړي ډول لور ته نغوته کړې چې قريشو ته د مکې د اوېجې او بيت الله سره لاسته ورغلی وو، بيا يې له تجارتي سفرونو سره د هغوی تړاو ته اشاره کړې ده چې په دوبي او ژمي کې هغوی مجبور ول، هرو مرو يې سر ته ورسوي او د هغوی د ژوند ټولو مادي سوکاليو ورپورې تړاو درلود، د هغوی په اقتصادي ژوند کې د ويني بهير له همدې تجارتي سفرونو څخه وو، چې د برياليتوب تضمين يې د بيت الله د توليّت له لامله ورته حاصل شوی وو، چې له دې شرفه د محروميّت په حالت کې يې دا درجه حاصلولی نه شوه، کومې لارې چې د نورو لپاره محفوظې نه وې او نور به تل د لوټمار او تالان سره مخامخ ول، او تل به په وېره او ډار له دې لارو تېرېدل، خو د قريشو د تجارتي قافلو د ساتنې او حفاظت لپاره به پر لارې پرتو قبيلو ورته بدرګه برابروله.

اوس چې خدای تعالی داسې خلکو ته له سختې او وږونکې لوږې او د عمومي ناامنۍ څخه ددې «بيت» [کور] په برکتناک سيوري کې نجات ورکړی دی، تر دې بريده چې په ژمي او دوبي کې د عربستان ختيځ او لويديځ ته د تجارت لپاره آزادانه سفر وکړي، ښايي چې د هغه «ربوبيت» ته [نه دنيايي راز راز اربابانو ته] غاړه کېږدي او د هغه په نسبت تسليم

او تعبد ولري «فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ». د مفسرينو په وينا، قريشو په ژمي کې د يمن لور ته او په اوړي کې د شام لور ته (په لويديځ کې) خپل تجارتي کاروانونه رهي کول.

بايد پاملرنه ولرل شي چې د پيغمبر هم مهالي مشرکين، لکه د نورو انبيائو د هم مهالو مشرکينو په څېر، له «الله» منکر نه ول، بلکې له ربوبيت او رحمانيت څخه يې انکار کاوه.

آيا په اوسنی زمانه کې له مسلمانانو څخه په عمومي توګه او ددې کور له متوليانو څخه چې د زبر ځواکو ولايت ته يې غاړه ايښې وي، په خاصه توګه دا ډول انتظار نه شي کېدای؟

---

## د سورت متن او د لُغتونو ترجمه:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم
لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾ الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾

إِيلَافِ = الفت، انس، مينه، محبت، تړون، تړاو، ترتيب ـــ قُرَيْشِ = د عربو مشهوره قبيله ده چې لړۍ يې نضر بن کنانه ته رسيږي ـــ رِحْلَةَ = سفر، کوچ کول، لېږدېدنه ـــ الشِّتَاءِ = ژمی ـــ الصَّيْفِ = اوړی، دوبی ـــ يَعْبُدُوا = بايد عبادت وکړي، بايد ونمانځي ـــ رَبَّ = پروردګار، پالونکی څښتن ـــ الْبَيْتِ = کوټه، کور، خونه ـــ أَطْعَمَهُمْ = خوراک يې ورکړ هغوی ته، هغوی ته يې روزي ورکړه ـــ جُوعٍ = لوږه ـــ آمَنَهُمْ = هغوی يې په امن کې کړي دي، ډاډمن کړي يې دي، بچ کړي يې دي، هغوی ته يې ډاډېنه وربښلې ده ـــ خَوْفٍ = ويره، ډار، ترس.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾

د قريشو [= د مکې خلک / د پيغمبر کورنۍ] تر منځ د تړون [او مينې د شکراني] لپاره[(١)]

إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ ﴿٢﴾

د هغوی الفت [او تړون چې] د ژمني او دوبني کوچ [او لېږد] سره دی[(٢)] [چې د سوداګرۍ لپاره يا د سختې تودوخې څخه د تېښتې له کبله له ګډوډۍ سره مخامخ ول]،

| لِإِيلَافِ | قُرَيْشٍ | إِيلَافِهِم | رِحْلَةَ | الشِّتَاءِ | وَالصَّيْفِ |
|---|---|---|---|---|---|
| د مينې او تړون د شکراني لپاره | قريش | د هغوی تړون ورکول | کوچېدل [لېږدېدل] | ژمی | او دوبی |

١ ـ ګډ ارمان، او مشترکه موخه او هدف د قوم او ملت د وګړو تر منځ د يووالي او تړون لامل ګڼل کېږي. د عربستان په ټاپووزمه کې سر تر سره ګډې وډې او خپرې قبيلې پرله پسې تل په خپلو کې له يو بل سره په جنګ او يرغل او قتل او لوټمار کې وې، د مکې له حريم پرته چې د کعبې په حرمت او د هغې د امنيّت په سېوري کې، پخوانيو دښمنانو کولی شو د يو بل په څنګ کې په ډاډه توګه په راکړې ورکړې او عبادت بوخت شي پاملرنه او غور ورته وکړي او په امنيت کې تجارت او عبادت وکړي.

د اسلام د پيغمبر له ظهور او د قرآن له نزول سره سم هاغه الفت او تړاو چې قريشو او د مکې محدود حريم ته ځانګړی وو، په تدريج ورو ورو عموميت او پراختيا وموندله او د ټولې ټاپووزمې دښمنې قبيلې يې له يو بل سره ونښلولې او د اسلام د سولې او پوخلاينې آيين په نعمت يو له بل سره ورونه شول [آل عمران ١٠٣(٣:١٠٣)]، داسې يوه ورورولي او الفت چې د ځمکې د ټولو شتمنيو په بيه هم کېدونی نه وو: «وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ ...»[انفال ٦٣(٨:٦٣)].

د دوست او دښمن تر منځ د داسې يووالي او الفت د تداوم او غځونې لپاره، خدای تعالی د ملي بودجې [بيت المال] د اته ګونو موردونو څخه يو يې د زړونو څکونې او تاليف ته ځانګړې کړی دی. «مُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ» [توبه ٦٠(٩:٦٠)] په عربي ژبه کې زر «اَلْف» نومول کېږي چې د يويزونو تر منځ د اُلفت انځور دی!

٢ ـ د مکې ډبريني ځمکې، سوزوونکي هوا او تنګې درې ددې سيمې له خلکو څخه د کرکيلې او څارويو روزنې د کېدون وړتيا اخېستې وه او ژمنې او دوبنې کوچ او لېږدېدنې ته د تجارت لپاره د شام په لور [په لويديزکې] يا يمن ته [په ختيز کې] مجبورول. او په سختو شرايطو کې به يې کورنۍ معتدلو سيمو ته ايلبندونو او بانډو ته يا د اطرافو آباديو ته لېږلې. ګاونډيانو هم کعبې ته د درناوي په پاس پر مکې له يرغل او د ښار له لوټ کولو او د هغوی پر تجارتي کاروانونو له داړو اچولو څخه معمولاً ځان ساته.

---

## د قريش سورت د لومړي او دويم [(١٠٦:١) او ٢] آيتونو تشريح:

لکه څنګه چې مخکې مو نغوته وکړه د «قريش» سورة، له دې څخه د مخکې سورة [«فيل»] سره ډېره ظريفه اړيکه لري. د «فيل» په سورة کې د «اصحاب فيل»

پېښنه نقل شوې ده چې په جوته توګه له کعبې او د قریش له قوم سره اړیکه لري، او د «قریش» په سورة کې بیا هم خبره له همدغه قوم څخه ده. لکه څنګه چې مو مخکې هم ویلي، د قرآن سورتونه د غاړکۍ د کړیو په څېر، یو تر بله اړیکه لري. په دې سورة کې بحث دادی چې کوم لامل سبب شو چې قریش قوم پخپلو کې الفت وموند. دا سورت پر قریشو د ښېګڼې او لورېنې یادونه کوي چې خدای تعالی په دې توګه د یوې دفاع په توسه چې له مکې څخه یې وکړه تاسو یې د نورو په نظرونو کې د درناوي او قدر وړ وګرځولئ چې له بشپړ امنیت سره، پرته له دې چې د لارې شوکوونکي پر تاسو ډاکه وغورځوي، وکولی شئ د تجارت په موخې دوبنۍ او ژمنۍ کوچېدنې سرته ورسوئ، او ورپسې د «بیت» د پالونکي ښتن عبادت او نمانځنې او توحید ته بلنه ورکوي.

لکه څنګه چې مو مخکې نغوته کړې؛ په عربستان کې مېشت لوټمار قومونه تل له یو بل سره د جنګ په حالت کې ول؛ خو د ابراهیم او زوی په توسه یې د توحید د مکتب د بنسټ ایښوونې له مهاله او له هغه څخه په وروسته نسلونو کې یې، دا توحیدي مرکز، د پېریو په اوږدو کې، د ښاغلو او مخورو وګړو په همت چې د آیین او پخوانیو مناسکو څارونکي او پاسوالان ول، د عربو وحشي او بېدیامېشتو قبیلو ته د منلو او درناوي وړ وګرځېد او ورو ورو په مکه کې یو امنیت رامنځته شو چې هغه ځای یې په اقتصادي پلځای او مرکز تبدیل کړ، په داسې ډول چې له اطرافو او شاوخوا څخه به، سوداګر هلته راتلل او راکړه ورکړه به یې کوله. یوه له قبیلو چې په مکه کې یې بنه ونیوله، قریش ول.

قریش د کسب په معنا دی؛ څرنګه چې قریش د نضر بن کنانه له نژاده ول او په کسب او تجارت کې یې ژوند کاوه، چې د پیغمبر د ستر نیکه قُصَیّ بن کلاب تر زماني پورې په حجاز کې خپاره ول. په لومړي ځل قُصی هغوی په مکه کې راټول کړل او د «بیت الله» تولیّت او پالنه ددې قبیلې په لاس کې ورغله. نو پر دې بنا یې قُصَیّ ته د مُجَمِّع (راټولوونکي) لقب ورکړی؛ نوموړي د خپل اوچت

درايت او تدبر په توسه په مکه کې د يو ښاري نظام بنسټ کېښود، او د عربو له ټولو لورو څخه د راتلونکو حاجيانو د چوپړ او خدمت لپاره يې بهترين انتظام وکړ، چې له اغېزې يې د عربو د ټولو قبيلو په منځ کې او په ټولو سيمو کې د قريشو اثر او مخورتيا ورو ورو مخ په زياتېدو شوه؛

له قصی وروسته يې د هغه د زامنو [عبدمناف او عبدالدار] تر منځ د مکې د نظام منصبونه وويشل شو، خو په دوی دواړو کې «عبدمناف» چې لا د خپل پلار له زماني نوميالی او مخور شوی وو او په عربو کې د هغه شرف او مخورتيا ورځ تر بلې زياته منل کېده. عبد مناف څلور زامن درلودل؛ «هاشم»، «عبدشمس»، «مطلب» او «نوفل». له دوی څخه «هاشم» چې د «عبدالمطلب» پلار او د پيغمبر غور نيکه وو؛ تر نورو ټولو مخکې په دې فکر کې شو چې په نړيوال تجارت او سوداګرۍ کې برخه واخلي، د عربو قبيلې چې د لوېديځ پر لور د شام او مصر پر لارو پرتې وې؛ د هغوی لپاره به يې د نورو سوداګريزو توکو تر څنګ ددې قبيلو د ضرورت وړ توکي هم راوړل چې پر لارو پرتو قبيلو ترې پېرودل، او د مکې په دنني منډوي کې هم سوداګرو د توکو د پېرودلو لپاره راتګ پيل کړ.

دا هاغه زمانه وه چې د ايران ساساني حکومت پر هاغه نړيوال تجارت چې د شمالي سيمو او فارس خليج له لارو د رومي سلطنت او شرقي هيوادونو تر منځ کېده، خپلې منګولې خښې کړې وې، نو ځکه له جنوبي عربو څخه د احمر بحيرې ساحل په څنګ څنګ کې کومه تجارتي لار چې د شام او مصر پر لور تلله، په دې لارليکه، چې تجارت او کاروبار ډېر ګټور او ځلېدلی وو؛

د نورو عربو قبيلو پرتله قريش له دې اسانتيا برخمن ول چې په لارو کې ټولو عربو قبيلو د بيت الله د چوپړتيا او خدمت کولو له کبله د هغوی ډېر عزت او درناوی کاوه، د حج پر مهال چې د قريشو وګړو په ډېره مهربانه او عزتمنه بڼه په ډېر اخلاص او آزاد لاس د حاجيانو خدمت کاوه، له دې لامله ټول عرب يې احسانمن او منندوی ول.

د قریشو تجارتي قافلې له دې اړخه ډېرې ډاډه وې، چې ګوندې په لاره کې به پرې څوک ډاکه واچوي او یا به یې لوټ کړي، په لاره کې پرتو قبیلو به تـرې د لار تېرېدنې مالیه هم نه اخېسته، سره ددې چې له نورو قبیلو څخه بـه یـې ډېـره درنه مالیه اخېسته. هاشم له دې موقعیته په ګټې اخېستو خپل تجارت پـراخ کـړ، او خپل نور ورونه یې هم په دې تجارتي پروژې کې شامل کـړل، او هـر یـو لـه شاوخوا هیوادونو سره تجارتي اړیکي ټینګې کړې، او په دې توګـه ددې خلکـو تجارت په ډېره بیړه پرمختګ وکړ، له همـدې کبلـه دا څلـور ورونـه د متجّـرین [سوداګرو] په نامه مشهور شول او کومې اړیکي او تړاوونه یې چې د ګرد چاپېره قبیلو او هیوادونو سره ټینګ کړي ول د هغې له کبلـه یـې هغـوی تـه «اصـحاب الایلاف» هم ویل؛ چې معنایې ده [الفت پیدا کوونکي].

د دغې کاروبار او تجارت له امله قریشو وګړو ته د شـام، مــصر، عـراق، ایـران، یمن، او حبشې له هیوادونو سره د اړیکو او تړاوونو ډېرې زمینې او ډګرونـه برابـر شول، او د مختلفو هیوادونو له کولتور او تهذیب سره د نیـغ پـه نیغـه مخینـې د پیدا کېدو له امله د هغوی د لید معیار او اندول دومـره اوچـت لاړ چـې د عربـو کومې بلې قبیلې ورسره سیالي نه شوه کـولی. د مـال او شـتمنیو پـه اعتبـار هـم هغوی په عربو کې پر ټولو بر ول او مکه د عربې ټاپووزمې تر ټولـو مهـم تجـارتي مرکز شو. ددې نړیوالو اړیکو یو ستره فایده دا هم وه چـې دې خلکـو لـه عراقـه هاغه رسم الخط [لیک بڼه] راوړ[ه]، چې وروسته د قرآن مجیـد د لیکلـو لپـاره استعمال شو[ه]. د عربو په کومې بلې قبیلې کې دومره زیات لیکونکي لوستونکي خلک نه ول، څومره چې په قریشو کې ول.

لنډه داچې د «عبد مناف» په زامنو کې تر ټولو نومیالی، مشـهور او مخـور همـدا «هاشم» وو چې د حاجیـانو د خـدمت او چـوپړ سره سره ډېـر سـخاوتمن او زړه سواندی سړی وو؛ کوم کال چې په مکه کې ډېره سخته قحطـي شـوه، همـدې «هاشم» چې تر ټولو بډای سړی وو، خپله ټوله شتمني د خلکو تر منـځ وویشـله؛

چې له دې وروسته د هغه او د قریش کورنۍ د کرامت، سخاوت او بښنګرۍ آوازه په ټول عربستان کې خپره او وپیچل شوه. په واقعیت کې، له همدې مینې، محبت او انسانیت څرګندونې له لامله قریش معروف او مشهور شول.

په دې ترتیب قریش ورځ تر بلې د خلکو تر منځ د ځانګړي اعتبار څښتنان شول تر هاشم وروسته دا اعتبار د هغه زوزات ته ولېږدېده او عبدالمطلب د حضرت رسول نیکه تر ټولو مخور او مشهور وو او د نورو ټولو تر منځ د ځانګړي مقام څښتن وو، د همدې مهال سره سم، چې قریش د شهرت او اعتبار په لوړه څوکه کې ول، پر مکه د ابرهه د یرغل پېښه رامنځته شوه. تاسو ته څرګنده ده چې ابرهه غوښتل پر مکه یرغل وکړي او کعبه ړنګه کړي، او یو ستر لښکر یې له ځانګړي ساز او سامان سره له پیلانو سره مل د مکې پر لور مارش کړ، چې په دې ترتیب د کعبې تقدس او د قریشو اعتبار له منځه یوسي او همدا راز د شام او مکې تر منځ تجارتي لار هم په خپله ولکه کې واخلي. خو الله تعالی د هغوی کید او چل ول خنثی او ناکام کړ، او ابرهه یې، د هغه له ستر لښکر او پیلانو سره یو ځای د اورشیندي د لاوا په توسه له منځه یوړل، او لکه د ژوول شوو بوسو او وښو په څېر شول چې داستان یې په مخکیني سورت کې تشریح شوی دی.

خو ولې د عربو مختلفو خانګو او ډړو له یو بل سره الفت پیدا کړ او څنګه وشول چې په دې ټاپووزمه کې، چې ټول د جنګ او لوټمار په حال کې ول، یوځلې نابېره اختلافونه یې له منځه ولاړل او د سولې لارې ته سم شول؟ ... پوهېږو چې اصلاً د قبیلوي ژوند ذات او طبیعت د جنګ تقاضا لري. عربو ملیت نه درلود او هیڅکله یې د حکومت په نامه څواک تجربه کړی نه وو او د هغوی تر منځ د دولت بنسټ نه وو اېښوول شوی، هغوی اصلاً پانګه نه درلوده.

پر دې بنا په دې نظام کې، هاغه چا کولی شو ژوند ته پایښت ورکړي چې قبیلوي نظامونو پورې تړاو ولري. لازمي وه چې د خپلې قبیلې په نسبت تعصب وپالي؛ باید له ځانه یې غیرت او مېړانه ښوولی، چون ټولې قبیلې پرله پسې یو تر

بله د جنګ په حالت کې وې، او د هغوی تر منځ د يووالي او الفت لپاره هيڅ لامل شتون نه درلود.

اوس له دې مخينې سره، فرمايي: لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ. د لِإِيلَافِ دا «لام» مخکينې سورت او د «اصحاب فيل» هغه داستان ته ورګرځي. يعنې لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ. د مخکيني سورت په يو له افعالو پورې اړوند دی ـ أَلَمْ تَرَ، كَيْفَ فَعَلَ، اَلَمْ يَجْعَلْ، فَأَرْسَلَ، فَجَعَلَهُمْ، يا ددې افعالو څخه د اخېستل شوي مضمون په يو پورې اړه لري. نو پر دې بنا د ايلاف فاعل هماغه ددې افعالو فاعل [ربک] دی، او قريش مضاف اليه او د ايلاف مفعول دی. او د [لايلاف] لام هاغه پايله او نتيجه څرګندوي چې له دې فعلونو څخه لاسته راځي

[لدې سره سره، اصلي موخه يې يوازې همدا نتيجه نه ده ـ لکه: «فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُونَ لَهُمۡ عَدُوّٗا وَحَزَنًا ...» [قصص۸(۲۸:۸)] «نو (د نيل په رود کې د موسی له خوشې کولو وروسته) کله چې فرعونيانو هغه (له اوبو) ونيو چې (پرته له دې چې هغوی متوجه شي) د هغوی د دښمنۍ او اندېښنو سرچينه شي»].

ستا پالونکي څښتن هم د «اصحاب فيل» سره همداسې وکړل او د هغوی چل ول او نيرنګ يې ګډوډ او ناکام کړ او د سجيل په توسه يې نشت او نابود کړل، خو خدای تعالی ولې د «فيل اصحاب» نشت او نابود کړل او د هغوی کيد او چل ول يې خنثی کړ، د څه لپاره؟

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ. د قريشو تر منځ د الفت، او همدا راز د قريشو او نورو تر منځ د الفت او پيوند د رامنځته کولو لپاره. په واقعيت کې همدا د قريشو الفت د قبيله يي ژوند په هاغو سختو او لواړو شرايطو او اوصافو کې، پخپله د عادت پر خلاف او لکه د معجزې په څېر وو، ځکه؛ په هاغو شرايطو کې چې د حجاز عربو ژوند کاوه، د ژوند اساس او پايښت يې پر طايفه، قوم او قبيله او د هغه په نسبت د تعصب پر بنسټ ولاړ وو. د هرې طايفې او ورپسې د هرې قبيلې خلک بايد په خپلو کې الفت ولري او د خپلې قبيلې په نسبت متعصب اوسي او له نورو قبيلو

سره خپل ځان ناآشنا او پردی وګڼي چې وکولی شي خپل ځان او خپله قبيله وژغوري. دا د قبيلوي او بيديايي ژوند تـوليزه او عمـوي طريقـه ده، پـه داسـې ډول چې که کله کومې قبيلې يا طايفې به له کـومې بلـې قبيلـې يـا طـايفې سره تړون کاوه او يو تر بله بـه يـې کـوم الفـت څرګنـداوه، ددغـو دواړو قبيلـو سره ددرېمې او دښمنې قبيلې د وحشت او جنګ له لامله وو، او همـدا چـې د دواړو شريک دښمن به له منځه تله، همدا دواړه قبيلـې بـه پـه خپلـو کـې وحشـت او دښمنۍ ته بيرته ستنېدلې.

د بيديايي قبيلو تر منځ د دښمنۍ او وحشت خوی، د هغوی د ژوند له وضـعي او د توکو او شتمنيو له کمښته سرچينه نيسـي، ځکـه د دا راز قبيلـو د ژونـد تېرولـو سرچينه په مختلفو نقطو کې محدود څړځايونه دي چې د موسمي اورښـتونو پـه توسه هلته ګياه ګانې تهوکيږي، او ډېری وختونو به همدا څړځايونو د وچکالۍ له اغيزې د هغوی د څارويو د روزۍ لپاره بسنه نه کوله، لـه همـدې لاملـه د خپـل ځان او څارويو د ژوند لپاره يې بايد پرله پسې له يوه ځايه بل ځای ته کوچ کـاوه او په مناسبو او وړ سيمو کې د ځای نيولو لپاره بايد د جنګ، يرغل او لـوټمار پـه حالت کې يې ژوند کاوه، او تل د مختلفو سيمو د دفاع يا لوټمار او يرغـل لپـاره خپل ځان بايد چمتو وساتي.

پر دې بنا لوټماري او توحش د بيدياوي ژوند له توکو او ضرورتونو څخـه دی او ددې خوی د پلې کولو او د ژوند غځېدو لپاره بايد په بدني ځواک او غيرت او د خپلې قبيلې په نسبت پر تعصب تکيـه وکـړي، او تـل د خپـل چاپيريـال پـه اړه هوښيار او د لوټماری يا دفاع لپاره چمتو اوسي. او څرنګه چې د دا راز ژونـد لـه توکو او اغيزو څخه، آزادي، شجاعت، زړورتيـا، صراحـت، څرګنـدتيا، سـوچه والی او ميړنتوب دی، په داسې چاپيريال کې د هغه په توليدي او اقتصادي ډګر او ځمکه کې، دولت د هغه په عمومي مفهوم نه تهوکيږي، ځکه دداسـې خلکـو د آزادګۍاو سرکښۍ خوی د حکومت او قانون د منلو زغم نلري او هم، دا چـې د

مالي اداري او د مالياتو ورکولو لپاره د حاصلاتو، توليداتو او لاسته راوړنو سرچينه نلري. او څرنګه چې عربو قبيلو په وچو، بې اوبو او بې وښو ځمکو کې يې ژوند کاوه، په دوی کې سرکښ طبيعت او قبيلوي تعصب دومره سخت تر او ټيکاو وو، چې د هغوی په منځ کې د ايلاف او ائتلاف لپاره هيڅ ډول ځمکه او لاره نه وه.

دا د پالونکي څښتن ځانګړی نظر او حکيمانه اراده وه چې بايد د عربو خپرو او بيدياوي قبيلو په منځ کې د ابراهيم خليل او د هغه د زوی په لاس يو کور او عبادتځای ودان کړي، چې بيا به د هغوی زوزات د سترې او مخورې قبيلې زڼې او سرچينه شي چې نورې عربي قبيلې له هماغه بياباني او بيدياوي سپېڅلي فطرت او خوی، زغم او ميراني او د بشري حکومت له بندونو څخه له آزادی سره، ددې کور ګردچاپېره او له هغه څخه د حاصل شوي امنيت له لامله له قريشو سره او هم په خپلو کې، يو بل ته ومنل شي، روږدي شي، تاليف شي، او يو له بل سره الفت ومومي او د اصحاب فيل له داستان وروسته هغوی په خپلو کې لا زيات الفت وموي او دداسې يو آسماني رسالت ابلاغ او د هغه په توسه د خلکو هدايت ته چمتو شي.

إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ. د هغوی د تړون لپاره [چې] د ژمني او دوبني کوچ او لېږد له لامله له ګډوډۍ او خپراوي سره مخامخ ول. «ايلافهم» د «لايلافهم قريش» انډول دی او تکرار يې د ځانګړونې لپاره دی. چې موخه يې د «قريشو» او نورو خلکو تر منځ ددغو دوو سفرونو په اوږدو کې د الفت پنځول دي، څکه چې د «ابرهه» له داستان وروسته خلکو هغوی ته په بله سترګه کتل، او د «قريشو» کاروان ته په ځانګړي درناوي، اهميت او امنيت قايل ول. «قريشو» هم د لارې په اوږدو کې امنيت ته اړتيا درلوده، او هم يې د «مکې» په اوېجه کې امنيت ته اړتيا وه، او خدای تعالی د «ابرهه» د لښکر د ماتې په سپوري کې هر دواړه امنيتونه وروبښل. او الله ددغې ښښنې او لو رينې يادونه ورته کوي. «رحلة» په اصل کې د [رَحْل] له ريښې د هاغه پوښښ او کتې په معنا ده چې پر

مرکب [لېږدوونکي] د پاسه يې د سپرېدو لپاره اېږدي، چې وروسته له همدې يې د هغه مناسبت خپله له اوښ او يا له هاغو مسافرتونو سره چې د هغه په توسه يا د کومې بلې وسيلې په توسه سر ته رسيږي، اطلاق کړی دی.

له دوو رحلو څخه موخه ــ لکه څنګه چې ځينو ويلي دوه کوچېدنې دي چې قريشيانو د ژمي په فصل کې يمن ته او د اوړي په فصل کې شام ته درلودلې او خپل تجارتي مالونه به يې د اوښانو په توسه دې دوو هيوادونو رسول. ګواکې له دې لامله ددې دوو لېږدېدنو يادونه شوې ده چې د حجاز په دوو اوږدو او متقابلو لورو کې وې او د عربو د مختلفو قبيلو او طايفو له منځه تېرېدلې او د ايلاف او امنيت له نه شتون سره د هغوی له منځه تېرېدل ناشوني ول. نو قريشو چې په ژمو کې په ختيز کې يمن او جنوبي سيمو ته کوچ کاوه، او اوړی به د شمال ايلبندې سيمو، او په لوېديز کې شامات ته تلل او په دې سيمو کې به يې راکړه ورکړه کوله. يعنې دوی به تل د يون او سفر په حالت کې ول؛ لکه زموږ د خپلو کوچيانو په څېر چې يو ثابت او جوت ځای نه لري.

قريشو، زموږ د کوچيانو په څېر، ډېر سخت او ستونزمن ژوند درلود خو هغوی به د ډېر ستونزمن ژوند له کبله يو پر بل يرغل کاوه او يو تر بله به يې لوټل. ځکه چې د هغوی د ژوند سختۍ او ستونزې لا ډېرې زياتې وې. که يو کال به اورښت نه کېده او وچکالي به خپرېده، يو شمېر به له لوږې مړه کېدل. پر دې بنا داسې لامل چې د هغوی تر منځ الفت رامنځته کړي شتون نه درلود، همدا لامل وو چې د هغوی ژمني او دوبني کوچېدنې او لېږدېدنې، تل د نورو قبيلو له يرغل سره مخامخ کېدلې او همدا مسئله مکې ته د ابرهه د لښکرکښۍ اهميت څرګندوي او معلومېږي چې خدای تعالی څه ډول له همدې پېښې سره، د هغوی تر منځه الفت لا وپنځاوه او د يو د بل له ځورونې، رنځ او آزاره يې په امن کې کړل.

او ورپسې دا نتيجه اخلي چې: «قريش» له دې ټولو الهي نعمتونو سره چې د کعبې له برکته يې موندلي دي «بايد ددې کور د پالونکي څښتن نمانځنه وکړي»

فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾

نو بايد ددې کور [= کعبه/ د يووالي او امنيّت لامل] د پالونکي ښتن نمانځنه وکړي [٣] [نه د بې شمېره او راز راز بوتانو].

الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾

هاغه چې [د ټولنيز امنيّت په سيوري کې له اقتصادي ودې سره] هغوی ته يې له لوږې [نجات او] روزي ورکړه او له ويرې [= د لوټمار او نا امنۍ او جنګ له خطره] يې و رته امنيت [ډاډينه او ژغورنه] وروبښله. [۴]

| هَذَا الْبَيْتِ | رَبَّ | فَلْيَعْبُدُوا |
|---|---|---|
| ددې کور | پالونکی ښتن | نو بايد ونمانځي |

| مِنْ خَوْفٍ | وَآمَنَهُمْ | مِنْ جُوعٍ | أَطْعَمَهُمْ | الَّذِي |
|---|---|---|---|---|
| له وېرې | او امنيت يې ورکړ | له لوږې | روزي يې ورکړه | هاغه چې |

٣ ـ مېره يا د کور ښتن ته په عربي ژبه کې «ربّ البيت» ويل کېده، هماغه مفهوم چې ارباب او د واک او اختيار ښتن يې زموږ په ژبه کې لري. د عربو قبايل چې د حج تمتّع يا عمرې په مهال کې مکې ته رهي کېدل په کعبې کې د دننه ځوړندو بوتانو په درشل کې به يې خپلې قربانۍ او نذرونه وړاندې کول. ددې آيت توصيه د بوتانو د تعبد او بنده ګۍ نفي کول او د عبادت انحصار او ځانګړي کول د کعبې د اختيار ښتن او خاوند ته دی.

۴ ـ امنيّت او اقتصاد يو له بل سره لازم او ملزوم دي؛ د آزادۍ او امنيّت په سيوري کې او له هغې څخه د پنځېدلي سوکالۍ په برکت اقتصادي پراخوالی او د هغه وده او غوړېدا تحقق مومي. د کعبې مرکزيت دا ډول يو امنيّت رامنځته کړ چې عربو دښمنو قبيلو د هغه په حريم کې د عمل او عبادت آزادي موندله او د مکې ښار ډېر ژر په مکاره بازار [د راکړې ورکړې منډوې] او د کالو او غلو دانو د بدلېدا په ستان او مکان تبديل شو او د هغه د کښتن په وړانګو کې د هغوی د دنيا او دين رونق موند.

## د قريش سورت د دريم او څلورم [(۱۰۶:۳) او ۴] آيتونو تشريح:

فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ. فرمايي: نـو بايـد ددې کـور خاونـد او ربّ ونمـانځي، عبادت يې وکړي او ياد يې وکړي، هاغه چې ددې لامـل شـو؛ هغـوی چـې لـه پېړيو پېړيو راهيسې يو د بل دښمنان ول او يو د بل وينـې يـې تويـولې لـه دې وروسته يو له بل سره الفت مومي او يو د بل تر څنګ ودرېـږي. يـو لـه بـل سره راکړه ورکړه او هوسا ژوند کوي، او پخپلو کې د دوستۍ پيونـد او تـړاو رامنځتـه کوي. فرمايي اوس که غواړئ ستاسو تر منځ دا الفـت تلپـاتې شي او وغځېـږي، تاريخي ريښه يې ووينئ چې څه ډول يې ستاسو تر منځ جګړه پای ته ورسوله. په واقعيت کې، د خدای تعالی عبادت او معنويت ددِې الفـت د بقـا او تلپـاتېتوب لپاره تومنه او سرچينه شوه، لکه د ساختماني مصالح او ګـډولې پـه څېـر چـې د يوې ودانۍ ډبرې او خښتې يو تر بله نښلوي او له هغوی يوه کلکه او ټيکاو ودانۍ جوړوي. نو د خدای تعالی [ددې کور د خاوند او څښـتن] عبـادت او معنويـت هاغه څه ول چې دې قبيلو ته يې يو تر بله پيوند او تړاو ورکړ او د هغوی تر منځ يې يووالی او يو ټوکرتوب رامنځته کړ. [رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ.] دلته «ربّ»، «بيت» تـه وراضافه شوی دی. مخکې مو ويلي چې د قرآن په هيڅ آيت کې د «رب» کليمه له مضافٌ اليه يا کوم بل اړوند څخه پرته نه ده راغلې. د «الله» د جلالة کليمې پـر خلاف چې پر کومې بلې کليمې نه اضافه کېږي او تل يوازې کـارول کېـږي. لـه ۹۸۵ ځلو څخه چې د «ربّ» نوم پـه قـرآن کـې کـارول شـوی دی، هيڅکلـه دا کليمه غير مضاعف واقع شوې نه ده او تل د اضافه شوې په بڼه ده. لکـه: ربّکـم، ربّنا، ربّـه، ربّ السّـماوات والاَرض، ربّ العـالمين او لـه دې جملـې، «ربّ هـذا البيت» يعنی ددې کور پالونکی څښتن. يعني کعبه هم ارباب او خاوند لـري او دا کور بې څښتنه نه دی: يو ربوبيت، اراده، مشيّت، قانون او رضائيت پرې واکمـن دی. «ربّ» هماغه د واک او اختيار خاوند او ارباب دی،او مضـاف واقـع کېـدل يې له دې څرګندونه او نښاني ده چې پر هر څيز او هر چا د حق ربوبيـت شـامل

دی. په بل عبارت، دا اضافه کېدل له مقدور سره د قادر او لـه مربـوب سره د ربّ پر نسبت دلالت کوي؛ خو «الله»، خدای تعالی ته پر توجه او مخ کوني، دلالـت کوي، صرف نظر له دې چې نسبت يې له مخلوق سره وي. پيغام يې دادی چـې ددې بيت ربّ ونمانځئ او عبادت يې وکړئ، چې تاسو ته يې هم امنيـت راوړی او هم رزق او روزي، او ددغه مکان د حرمت پـه سـاتلو کـې اهـتمام او پاملرنـه وکړئ. لکه څنګه چې الله تعالی د نمل سورت په ۹۱ آيت کې هم فرمايي:

إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ [نمل ۹۱ (۲۷:۹۱)]

[ای پيغمبره ووايه:] ماته امـر شـوی، چـې ددې ښـار [= مکـې] پـالونکی ځښـتن ونمانځم، هماغه څوک چې ددې لپاره يې د امن حرم ګومارلی، او ټول څيزونـه يوازې هغه [الله] ته ځانګړي دي! او ماته حکم شوی چې [هغه ته] له تسليم شـوو اوسم. ورپسې فرمايي؛ ددې کور هاغه پالونکی څښتن چا چې د لوږې په وخت کې روزي درکړه او له ويرې او خوف يې په امن کې کړئ. د هغه په عبادت کـې ستر او کوچني شريکان مه ګومارئ، هر هغه څوک چې د خدای تعالی دا حکـم پر ځای کړي نو هغه به د دنيا له دې امن سره سره د آخرت په ورځ هم پـه امـن او امان کې وي او له نافرمانی کولو څخه به يې دا امن هم پر بې امنـی واوړي او د آخرت امن به يې هم له وېرې او ډار سره پـه سـختې نـاهيلی بـدل شي؛ لکـه څنګه چې الله تعالی د نحل سورت په ۱۱۲ آيت کې فرمايي:

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ [نحل ۱۱۲(۱۶:۱۱۲)].

الله [د نا شکرانو د عبرت لپاره] د يو ښار مثال وهي چې [خلک يې] په بشپړ امنيـت او آرامی کې ول [چې] له هر لورې پريمانه روزي وررسېده؛ خو هغوی [د شـکر پر ځای، له غرور او سر غړونې سره] د الله د نعمتونو ناشکري وکړه، په پايلـه کـې الله

د هغوی د [رياکارانه] چلن له لامله د نغاړونکي لوږې او ډار [= ناامني] خوند وروڅاکه. نو نه ښايي ددې کور له رب پرته بل څوك يا څيز ونمانځۍ ځکه چې:

الَّذِي أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ. هاغه رب او پالونکی ښتن چې هغوی يې له لوږې وساتل اوروزي يې ورکړه او همدا راز، آمَنَهُم مِّنْ خَـوْفٍ. او هـم لـه ډار او ناامنۍ يې راوايستل او هغوی ته يې امنيت او پناه ورکړه.

دا آيت ځرګندې لورونې ته نغوته کوي چې د دوو رحلو [کوچېدنو] پـه ايـلاف کې شتون لري، او ځرګند او ښکاره نعمت چې انکار ترې نشي کېدی، او هغـه د قريشو د معاش او د هغوی د امنيت خوندي کول دي، چې په داسې اوېجه کـې يې ژوند کاوه چې نه د هغوی روزي خوندي وه او نه د هغوی ځان، او نه ښيرازه او سمسوره سيمه وه چې نور هلته راشي، او نه د نورو ځان هلته خوندي کېده نو بايد داسې يو پالونکی ښتن ونمانځي چې په بهترينه توګه يـې چـارې تـدبير او سمې شي، او هغه همدا ددې کور پالونکی ښتن دی.

په دې آيـت کـې د «مِـنْ» لفـظ سـببيه دی او د «جـوع» او «خـوف» لفظونـه د ځانګړي مفهوم لپاره کارول شوي دي؛ له «جوع» څخه مطلـب د کـومې سـيمې هاغه ځانګړی حالت دی چې د غذايي توکو او څيزونـو د لـږوالي او نـه شـتون څخه رامنځته کېږي. همدا راز له «خوف» څخه مطلب هاغـه حالـت دی چـې د امن و امـان لـه نشـتوالي او د ځـان او مـال د نـه خونـديتوب پـه حالـت کـې ځرګندېږي. دا دواړه لفظونه په قرآن مجيد کې په همدې ځانګړي مفهوم کې پـه نورو ځايونو کې هم کارول شوي د ي د بېلګې په توګه:

«وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ» [بقـره ۱۵۵(۲:۱۵۵)]. او هرومرو به موږ تاسو په يو څـه څيـز [د دښمن د يرغل او جنـګ] له ويرې او لوږې او د مالونو او ځـانونو او محصـولاتو پـه نقصان ازمايو او صبرکوونکو [او د زغم خاوندانو] ته زيری ورکړه.

دا سيمه چې د بيت الله حرم پکې موقعيّت لري، د حضرت ابراهيم له راتـګ او د «بيت الله» له بيا ودانولو مخکې هم له امن او غذايي توکو څخه محرومه وه، الله تعالی دا سيمه د بيت الله له برکته، له دواړو نعمتونو څخه برخمنه کړه؛ پـه قرآن کې ددې ذکر ځای پر ځای پر قريشو د احسان په توګه شوی دی:

«...أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا...»

[قصص٥٧(٢٨:٥٧)] ... آيا له دې پرته دی چې موږ د هغوی لپاره يـو د امـن حريم [= مکه] ګومارلی دی چې زموږ لخوا د روزی په توګه هر راز محصـولات، ورته لېږل کېږي؟ [په مکه کې برخمنتيا او اقتصادي وده چـې لـه تجارت او د توکـو لـه تبادلې څخه رامنځته شوې وه، د مکې له امنيته يې سرچينه نېولې]....

د عنکبـوت پـه سـورت کـې فرمـايي: «أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ...» [عنکبوت ٦٧(٢٩:٦٧)]

آيا [همدې ستر نعمت تـه] نـه وينـي چـې بـې لـه شـکه مـوږ د امـن يـو حـرم [=دمکې لپاره امنيتـي حـريم] ګومـارلی دی، پـه داسـې حـال کـې چـې د هغـه پـه شا و خوا کـې خلـک تښـتول کېـږي [= د هغـوی ځـان و مـال د قتـل او لـوټمار او نا امنۍ سره مخامخ دی]؟...

همدغه خبره يې په دې سورة کـې پـه بشـپړو او جـامعو لفظونـو کـې فرمـايلې ده چـې هغـوی ددې کـور د پـالونکي ښـتن عبـادت وکـړي، چـا چـې د غذايي توکو د نـه شـتون لـه پلـوه د هغـوی د غـذايي توکـو د اړتيـاو د لېـږې کولو سامان برابر کـړ او د ځـان او مـال د نـه خونـديتوب لـه کبلـه يـې هغـوی تـه د امن و امان ځمکه او ډګر برابر کړ.

مقصـد دا چـې پـه دې اوبجـه کـې کـه دا ښيزونـه چمتـو شـوي دي د الله تعالی د لوروني پـر بنسټ لاسـته راغلـي دي. لـه دې کبلـه پـه اسـتکبار کـې د اختـه کېـدو پـر ځـای پـر هغـوی د خپـل رب شـکر واجـب دی، او د شـکر تقاضا د رب بندګي او اطاعت دی، نه دا چې نافرماني او سرکښي وکړي.

مخکې مو ووېل هغه مهال چې حضرت ابراهيم د مديترانې له شاوخوا زرغونو او سمسورو سيمو څخه د دنيا له تر ټولو وچو اوشاړو سيمو څخه يوې ته، کوچ کوي، خدای تعالی ته عرض کوي: رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ، ای زما د اختيار څښتنه، ما خپل زوزات په يوه وچه او شاړه وادي کې ستا پرتمين کور ته نېژدې مېشت کړل، رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، چې تاته په مخ کونې او پاملرنې ستا د ياد له اوچتولو او لوړاوي سره د توحيد توغ نيغ او رپاند وساتي. «اقامه» يعنې پر پښو درول او نيغول دي. څه خيز پر پښو ودروي؟ څه خيز اوچت کړي؟ صلاة. يعنې خدای ته مخ کونه، يعنې چې په دې مرکز کې خالصه او نګه خدای نمانځنه او خدای غوښتنه ژوندی او احيا شي.

فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ.

[ابراهيم ۳۷ (۱۴:۳۷)] خدايه، د يو شمېر خلکو زړونه ددې کور لور ته لېوال او راتاو کړه او د ېيبرو او ثمراتو څخه ورته روزي وکړه چې ددې توحيدی مرکز هوا او چاپېريال په امنيت او سو کالی کې تلپاتي شي، او خلك ورته ميل او رغبت پيدا کړي. او موږ هم وينو چې د ابراهيم دعا منل کېږي او مکه ورو ورو د ښاريت او يو مدنيت بڼه مومي او د زمزم څاه پکې خوټېږي. مکه يوه وچه او بې اوبو دره وه، خو ورو ورو په تدريج تر دېرشو کريو څاه ګاني پکې کېندل کېږي.

د ابراهيم بله دعا دا وه چې: رَبِّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ آمِنًا.

[ابراهيم۳۵(۱۴:۳۵)] خدايه! دا ښار له امنيته برخمن کړه، او ورپسې: وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ. کله چې امنيت وي، اقتصاد هم رونق پيدا کوي، کله چې اقتصاد رونق ومومي، خلك فراغت او راحت ژوند مومي. او بيا په اخلاقي ارزښتونو او ايمان پسې ځي، او دا درې اصله يو تر بله اړيکه

لري. لومړی ګېډه يې بايد مړه وي. څکه خو يې ويلي دي: مَن لا مَعاشَ لَهُ لا مَعادَ لَهُ، هاغه څوك چې د شپې ډوډۍ ته اړ دی، له هغه نبايد د آخرت تمه ولرل شي. لومړی بايد خپله ورېږ ګېډه مړه کړي چې د راتلونکي لپاره فکر وکړي.

لومړنی څيز چې د مدنيت لپاره ضرورت دی، امنيت دی. امنيت چې وي کېدی شي کار او تجارت وشي او ژوند ته سينګار ورکړل شي. کوم مهال چې انسان په ژوندانه کې سوکالي ومونده، هاغه مهال مجال مومي چې هنر ته ورسيږي، علم ته ورسېږي، ايمان ته او ټولو انساني ارزښتونو ته ځان ورسوي. د قريش سورة ددې سريزو د بيان په مقام کې دی چې خدای تعالی څه ډول ستاسو ګېډه مَړه کړه او تاسو ته يې امنيّت درکړ چې يو تجارت مو پر لار واچوه او دا ټول يوه سريزه شوه د ورپسې پړاوونو لپاره.

نو، ليدل کيږي چې په ډېره يوه وچه سيمه کې چې له طبيعي پېرزوينو او لوروونو محرومه وه، د ابراهيم (ع) هجرت د داسې يو مرکزيت لامل شوه چې تصور او انګېرنه يې نه کېده. حضرت علي د نهج البلاغه په ۱۹۲ خطبه «قاصعه» کې، چې يوه برخه يې د مکې په اړه ده، په تفصيل شرح ورکوي چې خدای تعالی کولی شو خپل کور په زرغونه، ښېرازه سمسوره سيمه کې؛ د ښېګې په توګه د درياب پر غاړه يا د ځنګل په منځ کې يا د ښار تر څنګه رامنځته کړي، کولی يې شو هغه د زمرد او ياقوت له ډبرو جوړ کړي، له داسې ځلېدونکي ګوهره چې ورانګې يې له لېرې واټنه خلك خپل لور ته وځکوي، خو هغه يې په داسې وادي کې چې د کرکيلي استعداد يې نه درلود له تورو ډبرو څخه په ډېره ساده بڼه بنا کړ. ورپسې وايي: په هاغه صورت کې به ټولو پرې هجوم وروړ. هم د فال او هم د ننداري لپاره! ښه، که د خدای کور مثلاً د مديترانې په ساحل کې وای، د ټولو به خوښېدای يو سياحتي او زيارتي سفر ولري؛ او منت يې هم پر خدای کېږدي. خو کعبه داسې يو ځای کې بنا شوه چې لا تراوسه هم سفر کول ورته

ستونزمن دي. نو وينو چې څه ډول دا مکتب ورو ورو پرله پسې جوړېږي او راپورته کېږي او لوړتيا مومي.

اوس د پند او عبرت دې نغوتې ته پاملرنه وکړو چې پيغمبر (ص) په «عام الفيل» کې زېږېدلی دی. ددې دوو پېښو هم مهال والی او تقارن ډېر په زړه پورې او هېښوونکی دی، سمدم لکه د هاغو دوو خبرونو په څېر چې پرښتو ابراهيم ته راوړل؛ يو د لوط د قوم نژدې پېښېدونکی عذاب، او بل، د ابراهيم (ع) د زوی پلار کېدل؛ يعني د اسماعيل (ع) بشارت او زېرې ورکول. دا دوه موضوع ګانې تل له يو بل سره دي؛ لکه څنګه چې بڼوال ددې لپاره چې ګلان وکري، بېکاره او هرزه ګياه ګانې لېرې کوي.

نو الله تعالی داسې مقدر کړې وه چې د حضرت رسول اکرم د بعثت لپاره د ځمکې او ډګر د برابرولو لپاره د مکې ګرداګرد تر لېرې بريدونو پورې يې د دښمنو قبيلو تر منځ امنيت برقرار کړ او هلته يې د پرګنو لپاره د برکتناکې روزی وسايل برابر کړل او د حضرت رسول د زېږېدو پر کال يې د ابرهه شوم پلانونه خنثی او ناکام کړل، چې د کعبې، قريشو او مکې اعتبار يې د خلکو په منځ کې لا زيات کړ، او په دې ترتيب يې د نبوت د ګلبڼ د ښېرازه کولو او سمسورتيا لپاره ټول اغزي او هرزه ګياه ګانې لېرې کړې، چې څلوېښت کاله وروسته په دې ګلبڼ کې د نبوت ګلان وټوکېدل، او د درووېشتو کلونو په اوږدو کې دا بڼ بشپړ او تکميل شو او الله تعالی د دين د ګلبڼ ماليارانو ته د خپل نعمت د اتمام او بشپړ کېدو خبر ورکړ.

«...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ...» [مائده ۳ (۵ :۳)] ...

نن ورځ مې ستاسو دين ستاسو لپاره تکميل [او بشپړ] کړ او خپله لورېنه مې دربانديې تمامه کړه او [د خدای په وړانديې] تسليم مې ستاسو لپاره د دين په توګه غوره کړ....

الله تعالی د قریش په سورت کې د دوو نعمتونو یادونه کوي چې قریشو ته ورکړل شوي ول [معاش او امنیت]، ګوندي وي چې هغوی ایمان راوړي.

سربیره پر دې دا سورت دوه بنسټیز پیغامونه د هر مهال او هر مکان لپاره لري: لومړی: ددې لپاره چې ولسونه او پرګنې توحید او د یو الله نمانځنې ته وبلل شي، دا بهتره ده چې له هاغو نعمتونو څخه چې خدای تعالی هغوی ته ورکړي دي، یادونه ترې وشي او په دې توګه هغوی اندنې او تدبر ته وهڅول شي.

دویم: د یوې ټولنې د تغیر او د تو حید په لباس کې یې د نغاړلو لپاره که د ټولنې نخبه او مخور کسان وړ او مؤحد وګړي وي د بلنې په کار کې آسانتیا رامنځته کېږي او د ټولنې ستونزې په آسانۍ حل کېږي او ټولنه د سوکالۍ لور ته رهي کېږي، همدا لامل وو چې رسول اکرم تر نورو ټولو مخکې قریش توحید ته راوبلل. ددې نکتې ذکرول هم اړین دي چې: د حضر محمد (ص) نیکه عبدالمطلب، پر مکې د ابرهه د یرغل پر مهال د مکې د ښار مشر او تر ټولو مخور وګړی وو، څرنګه چې عبدالمطلب یو مؤحد انسان وو او یو هوښیار او مدبر مشر-او سروال وو، چې د ابرهه سره تر ملاقات وروسته د کعبې مخې ته راغی او د پالونکي څښتن په درشل کې یې د کعبې د ژغورنې لپاره په اخلاص دعاګانې وکړې چې تفصیل یې په تېر سورت کې ویل شوی دی، چې دعاګانې یې د رب په درشل کې ومنل شوې او ابرهه او لښکر یې د الله په امر د اورشیندي دلاوا په توسه نشت او نابود شول او له منځه ولاړل، چې په دې توګه په ټوله ټاپوزمه کې د کعبې درناوی او د قریشو اعتبار او مخورتیا لا زیاته شوه او پراختیا یې مومي. خو کله چې محمد(ص) اته کلنۍ ته ورسېد، عبدالمطلب له دنیا ولاړ او د مکې د ښار ریاست ابوسفیان او د هغه هم اندو ته ورسېد او د مکې ډېریو مشرانو او مخورو د حضرت محمد رسول الله (ص) پیغام و نه مانه او له پیغمبر سره یې دښمني وکړه، البته د ابوطالب په څېر ستر شخصیت چې د پیغمبر تره وو له هغه ملاتړ وکړ، خو هغه یو کس وو، دلته خبره د مکې د ښار د اکثریت مشرانو وه،

هغوی د پيغمبر خبره و نه منله او له هغه او د هغه له پلیوانو سره يې دښمني وکړه ټولنه او د ټولنې وګړي يې له ستونزو سره مخامخ کړل چې په پای کې پيغمبر مجبور شو د مکې ښار پرېږدي او يثرب ته هجرت وکړي. د يثرب مشرانو او مخورو په پيغمبر ايمان راوړ او هغه ته يې بلنه ورکړه چې د هغوی ښار ته راشي، کله چې د يثرب مخورو او نخبګانو ايمان راوړ، د يثرب خلك ډلې ډلې مسلمانان شول. دا د پيغمبر د برياليتوب راز په مدينه کې وو. يثرب په مدينة‌النبي بدل شو او د ستر توحيدي تمدن بنسټ کېښوول شو.

د ټولنې مخور او نخبګان د ټولنې په نېکمرغۍ او بدمرغۍ کې ډېر زيات ژور اغېز او نقش لري او بايد د هغوی نقش او اغېز په پام کې ونيول شي.

نو په هاغه کال کې د پيغمبر زېږد د غور وړ دی. په رښتيا چې، د پيغمبر د زېږېدو او د ابرهه د لښکر د نشت کېدو تر منځ، چې په يو ځلي يې کعبه او قريش په ټوله ټاپووزمه کې معروف او پېژاندي کړل، هممهال والی او تقارن يې ډېر هېښوونکی دی. د ابرهه لښکر، چې ټولو قبيلو ته يې ماتې ورکړې وه، د يادولو وړ هيڅ نښتې او مقاومت پرته مکې ته رسېږي او هلته په يو ځلي د يو اورشيندي د لاوا په توسه له منځه ځي او نشت کېږي.
سمدم لکه د هاغو چورلکو په څېر چې په طبس کې يې سقوط وکړ او راوپرځېدې، او دې پېښې ايران ته ټيکاو او يو اعتبار وباښه، هغه هم د ايران د انقلاب په پيل کې چې لا ايران ګډوډ او سيستم يې شيندلی وو، زوړ رژيم له منځه تللی وو او نوی رژيم لا په پخپلو پښو ولاړ نه وو.

يا پر افغانستان د مختلفو استکباري زبرځواکونو د يرغلونو په نتيجه کې د هغوی د ماتو مثالونه ورکولی شو، دا که سکندر وو که چنګيز، که روس دی يا انګريز، چې له ټولو سيمو په اسانۍ راتېرېږي او هر يو تر دې سيمي فاتحانه رارسېږي، او د لارې په اوږدو کې ټولې سيمې ورته تسليمېږي خو چې کله د غرونو، دې غريبو پووندو تش لاسو خلکو سره مخامخ کېږي، دا زبرځواکونه هر يو چې د خپلې

زماني کبرجن او مغرور خلك ول د يو موټي تش لاسو ګډو وډو غرنيو خلکو پر وړاندي په ګونډو کېږي او له خپل ټول غرور او تکبر سره نسکورېږي او په مقابل کي يې يو موټی تشلاسي پيوونده بې نومه خلك فاتح او نومیالي کېږي.

د ابرهه د لښکر له ماتې وروسته هم د قريشو په نسبت د کعبې د متوليانو او ساتونکو په عنوان، د عربستان په ټوله ټاپووزمه کي د پرتم او دبدبې سره يو درناوی د خلکو په زړونه کي رامنځته شو او دا پېښه په ښکاره توګه د اسلام د رسالت لپاره ځمکه او ډګر شو او د مکې د قبيلو تر منځ يې داسې يو چمتووالی رامنځته کړ چې له بعثت وروسته په لنډه موده کي د عربستان ټولې ټاپووزمې ايمان راوړ او له هغې وروسته، له پنځوسو کالو څخه په لږه موده کې، د هغې مهال متمدنې نړۍ د اسلام نوم واورېد او اسلام د فرانسې تر زړه [د ګُل د قوم ټاټوبی] او نورو ځايونو ته مخکې ولاړ. او تر څلورمې او پنځمې لېرديزې پېړۍ پورې اسلامي نړۍ د فرهنګ او تمدن له حيثه د نړۍ تر هر ځايه لوړه او اوچته وه. اتفاقاً د اسلام دتمدن ځواك او پرتم په اروپا کې د منځنيو پيړيو له پَير سره هم مهالی او مقارن وو چې نه يې د روغتيا کوم سيستم درلود او نه پوهنتون او نه يې له پرمختللي تمدن څخه کومه نښه نښان درلود. په اروپا کې، کابو تر شپږو پېړيو پورې د ابن سينا او رازي کتابونه تدريس کېدل او په همدې انډول، له اسلامي فرهنګ او تمدنه برخمنتيا سر ته رسېدله.

پر دې ترتيب، په ډېرو پخوانيو پيړيو کې، د نړۍ په دې لور کې، د نړۍ په يوې له ډېرو وروسته پاتې او محرومو سيمو کې، ابراهيم خليل يوه مدرسه بنا کړه چې د هغه د زوزات [د اسلام د پيغمبر] تر مهاله يې دوام وکړ او د هغه د پليونانو او پيروانو په توسه د هغې له پراختيا سره، په جهان کې د هاغې زماني تر ټولو ستر تمدن رامنځته شو، که څه هم له بده مرغه، له پنځمې او شپږمې لېرديزې پيړۍ وروسته، بهير بدل شو او موږ د غفلت په خوب کې لاړو او هغوی چې وروسته پاتې ول، رونسانس [Renaissance] يعنې د غورځنګ او قيام عصر

پيل کړ، ژوند ته يې له سره پاملرنه وکړه او په اصطلاح تجديد حيات يې وکړ، چې دا پخپله له سترو تاريخي مسئلو څخه ده.

نو موږ دعا کوو او له فکري او عملي بېلاريو او لټې له شره چې اسلامي ټولنې يې پر ځان اخته کړي دي الله ته پناه وروړو.

له پالونکي څښتنه غواړو چې زموږ د بصيرت سترګې د تاريخي پېښو سمو ليدلو ته پرانېزي او پوه شو چې که د اسلام سرلوړي او برلاسی او پرتم غواړو، هغه ته د رسيدو لار ددې کور پالونکي څښتن [ربّ] ته له مخ کولو پرته بله نه ده: فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ.

لويه خدايه! موږ ته ستا د عبادت او بندګۍ او د نعمتونو د شکر، او ستا د ستر کور [بيت الله] د پاسوالۍ توفيق را ډالۍ کړه!

پالونکی څښتنه! دا ستر اسلامي مرکز ورځ تر بلې ځلانده تر او پرتمين تر، او د نړۍ د مسلمانانو د پيوستون د مرکز او کړۍ په توګه وګوماره!

الهـا! د ټولو داړونکو او ويني بهوونکو دښمنانو لاسونه او هم د هغوی لاسونه چې له دې مرکزه ناوړه ګټه اخلي لنډ کړه.

ددې کور ساتونکو او څارونکو ته هم؛ [ چې خپل ځانونه د حَرَمَيْنِ شريفيْن متوليان بولي او آمريکا او انګليستان پورې تړاو لري او جاهل او وروسته پاتې دي او لکه د خپسکې په څېر د توحيد پر دې کور پربوتي دي]، بايد وويل شي چې: فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ.

اوسني مسلمانان چې، لکه د جاهليت د دوران په څير قبيله قبيله شوي دي او ټول يو د بل په نشتون پسې دي او د هغوی تر منځ ګډوډي بې اتفاقي، ډلې ټپلې کېدل ورځ تر بلې زياتېږي، يوازينۍ لار يې يووالي او سولې ته د رسېدو لپاره، د توحيدي يو ګوني اصل ته ستنېدل، يعنې د رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ نمانځنه ده.

که داسې يې وکړل، په هماغه مهال کې به سمدلاسه ددې وسه او ځواک ومومي چې پر خپلو پښو ودرېږي او خپله سر لوړي وساتي، او يو ځل بيا د علم او پوهې، پرمختګ او تمدن سرلاري شي.

د هاغې ورځې په هيله چې که څه هم زموږ په عصر او نسل کې بڼه ونه نيسي- په جوته توګه انشاءالله په راتلونکې کې به تحقق ومومي.

صدق الله العليّ العظيم

---

**يادونه**: ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


١ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرگان ليکنه
٢ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضی مطهري ليکنه
٣ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د مولانا سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه
۵ ـ تدبر قرآن ـ د مولانا امين احسن اصلاحي ليکنه
٦ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرگان
٧ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
٨ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي او علامه شبيراحمد عثماني] پښتو کوونکي: د عالمانو يوه ډله
٩ ـ پرتوی از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
١٠ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
١١ ـ تفسير نور ـ د مصطفی خرمدل ليکنه
١٢ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي قمي ليکنه
١٣ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
١۴ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح
١۵ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي] اردو ته ژباړه: مولا محمد جوناګړهي
١٦ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
١٧ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي: جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوی

١٨ ــ تفسير كمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندى

١٩ ــ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ــ مولوي قيام الدين كشاف

٢٠ ــ عزيزالتفاسير ــ د قرآن كريم پښتو ترجمه او تفسير ــ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

٢١ ــ صفوةالتفاسير ــ د محمدعلي الصابوني ليكنه ــ ژباړونكى: مولوي شمس الله كمال زاده

٢٢ ــ د قرآن پلوشې ــ د گلب الدين حكمتيار ليكنه

٢٣ ــ تفسير ديوبندي ــ د مولوي عبدالحنان ليكنه

٢۴ ــ حكمة القرآن ــ د مولوي امين الله پيښاوری ليكنه

٢۵ ــ تفسير ايوبي حنفي ــ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي ليكنه

٢٦ ــ تفسير احسن الكلام ــ د مولوي عبدالسلام رستمي ليكنه

٢٧ ــ قرآن كريم په پښتو ــ د اجرالدين اقبال ژباړه

٢٨ــ شرحي بر سوره هاى قرآن ـ عبدالعلي بازرگان ـ د عبدالعلي بازرگان ويب پاڼه [bazargan.com]

٢٩ ــ تفسير روح القرآن ــ مؤلف ډاكتر مولانا محمد اسلم صديقي.

٣٠ ــ د قرآن ټكى په ټكى او روانه ترجمه ــ مولوي جانباز سرفراز

٣١ ــ روح المعاني فى تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانى ــ العلامه ابى الفضل شهاب الدين محمودالالوسى البغدادي

٣٢ ــ تفسير جواهرالقرآن ــ مولانا حسين علي

٣٣ ــ تفسير روح البيان ــ شيخ اسماعيل حقى البروسوى

٣۴ ـ «كنزالايمان او تفسير نورالعرفان»ترجمه احمد رضاخان بريلوي ، تفسير احمد يارخان نعيمي

٣۵ ــ كشف الاسرار و عُدة الابرار ــ [د قرآنكريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري

٣٦ ــ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوى محمد ظاهر اسدالله مكي

٣٧ ــ تفسير الفخرالرّازى المشهور بالتفسيرالكبير و مفاتيح الغيب ، امام محمد الرازى فخرالدين

٣٨ ــ التّفسيرالمبين ــ دوكتور عبدالرحمن بن حسن النّفيسه

٣٩ ــ تفسير قرطبى ــ محمد بن احمد بن ابوبكر قرطبي ، ترجمه اردو: پيرمحمد كرم شاه